مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۸/۱۹

# آزادي


پــه انــالــحــق ویـلـو سـتـړی ښـه دی
لکه منصور غوڅ ترې هر غړی ښه دی

که وس يې نه رسيږي شور دې وکړي
له وېرې ګونګ سړي نه مړی ښه دی

سر خو به هسک وي که ساه و هم وځي
د غـلامـۍ نـه د دار پـړی ښـــه وي

امېـد خـو وي چې بــه ثمر و نیسي
د شـر لـه ونــې د خير زړی ښه دی

پــه شــهـيـدانــو کــې راځي بــاوره!
د بـل غـلام نــه اوبـو وړی ښه دی




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ